(١)

## د اسلامي شريعت په تله کې عمومي ګټې

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي:« **وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۚ**» ژباړه:« کوم کارونه چې د نېکۍ او خدای پالني دي، په هغو کښې له ټولو سره مرسته وکړئ؛ او کوم کارونه چې د ګناه او تیري وي، په هغو کښې د هیچا ملاتړ مه کوئ.»، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

د اسلامي شریعت په احکامو کې که څوک فکر وکړي نو وبه ګوري چې دا د هیوادونو او د ولسونو د ګټو لپاره راغلي دي ترڅو د بشریت نفس لوړوالی رامنځته شي او همدارنګه لوړو درجو ته راپورته شي نو هر هغه څه چې عامي ګټي د خلکو لپاره ثابتوي دا ټول د شریعت سره برابر دي اګر که پدي کې ښکاره نص هم نه وي راغلي او هر هغه څه چې د خلکو د ګټو سره په ټکر کي وي په اسلامي شریعت کې د هغه بنسټ نشته.

د اسلام مبارک ین فردیت او همدارنګه انانیت او ځانځانوالي نه پیژني او همدارنګه په عامو ګټو باندی د خاصو ګټو مخکیوالي هم نه پیژني بلکي اسلامي شریعت د عامو ګټو او همدارنګه د ریښتیني ګټي او همدارنګه د نیک او د پرهیزګاري په کارونو کې د همکاریو سرته رسول د محبت او د نورو په غوراوي باندي ولاړ وي تینګار کوي ترڅو یوه پرمختللی ټولنه رامنځته شي او مرسته پکې ترسره شي و د یو وګړي هڅه د ټولني لپاره

وګرځيږي چې دا په عين وخت کې د دواړو وګړي او ټولني لپآره غوره تماميږي او د يو هيواد د خلکو په زړونو کې دا احساس رامنځته کوي چې دوی د يو بدن په څير دي که چيرته دبدن يو غړي نارام وي نو د بدن ټول غړي ورسره نارامه کيږي لوي شاعر شوقي ته دي خداي خير ورکړي چې ويلي دي: هيوادونو باندي ځوانانو سرونه بيللی دي خو بيا هم هيوادونه پاتی دي او د خلکو پرته هيوادونه ژوندي دي او تل به پاتی وي*.

بی له شکه څوک چې د الله تعالی په کتاب کې فکر وکړي نو دا درکوي چې د شريعت د احکامو عمومي او کلي مقصد د خلکو لپآره دا دی چې هغوي ته ګټي ورسوي او د هغوي لپآره خير او ښيګڼه رامنځته کړي او د هغوي څخه ضرر او شر لری کړي قرانکريم پدي باندي ټينګار کړی دی چې د مصلحت او د ګټو ساتل او همدارنګه د عامو ښيګڼو رامنځته کول د پيغمبر صلی الله عليه وسلم او د ټولو انبياؤ لاره وه الله جل جلاله هيڅ نبي او رسول ندي ليږلی مګر دا چې هغوي د قوم د خوښوني او همدارنګه هغوي ته د خير د رسوني لپآره ليږلي دي چې بغير د کوم مقابل څخه هغوي ته دنياوي او اخروي ښيګڼي ورپه برخه کړي الله تعالی د نوح عليه السلام په ژبه باندي فرمايلي دي: **«وَيٰقَوْمِ لَآ أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۚ»**ژباړه:« او اې قومه! زه پردې وظيفه ستاسي څخه کوم مال نه غواړم، زما اجر خو پر الله باندي دی.» او الله تعالی په بل ځاي کي د هود عليه په ژبه باندی فرمايلي دي: **« قَوْمِ لَآ أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى الَّذِى فَطَرَنِىٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ»** ژباړه:« اې قومه! پر دې کار باندي زه ستاسي څخه کوم اجر نه غواړم؛ زما اجر خو د هغه ذات په ذمه دی چي هغه زه پيدا کړی يم. ايا تاسي له پوهي څخه کار نه اخلئ؟» او دا ابراهيم د الله خليل وو چې الله ته به يي زاری او دعا کوله د خلکو د عامه ګټو او منفعت او ښيګڼي لپآره لکه چې فرمايي: **« رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُۥ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ ءَامَنَ مِنْهُم بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْءَاخِرِ ۖ»**

ژباړه:« "اې زما ربه! دا ښار(کعبه) د امن ښار وګرځوه، او ددې له اوسېدونکو څخه چې څوك الله او اخرت مني،» نو د بلد يا د هيواد څخه مقصد دلته د دغه سيمي اوسيدونکي دي لکه څنګه چط د هغوي لپآره د رزي او همدارنګه د نورو غوښتنه کړی وه ترڅو نورو څخه په امان کي پاتي شي ځکه که چيرته يو هيواد په امن کې وي او د خلکو روزمره ژوند او هغوي لپآره هرڅه برابر وي نو ددغه هيواد د خلکو سره دا ددي مرسته کوی چې د لله اطاعت وکي نفسونه يي آرام وي زړونه يي مطمئن وي او د الله جل جل جلاله د هغه ارادی ثابتولو لپاره هڅه کوي چې د ځمکي آبادول او اصلاح کول ي لکه چې فرمايي:**« هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا»**ژباړه:« هماغه ذات دی چي تاسي يې له ځمکي څخه پيدا کړي ياست او دلته يې تاسي مېشته کړي ياست.» او په بل ځاي کې فرمايي:**« وَلَا تُفْسِدُوا فِى الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَٰحِهَا»** ژباړه:« او په ځمکه کښي فساد مه را ولاړوئ چې کله په هغې کښي اصلاحات راغلي دي؛».
محمدي شريعت د همدي لپآره راغلي ي ترڅو غه بشري بنسټ پياوړی کړي او برابره سمون او اصلاحات رامنځته کړي او داسی بنسټونه رامنځته کړي چې ټولنی ساتني او همدارنګه د هغه د پرمختګ لپاره کار وکړي ي ترڅو ګټه يي ټولو خلکو ته ورسيږي او همدارنګه د لومړيتوبونو ترتيبوالي ترڅو ژوند منظم او برقراره وي پدغه برخه کې که نبي کريم صلی الله عليه وسلم سيرت او د هغه د صحابه ؤ ژوند ته وګورو نو بيلابيل داسی دريځونه مونږ ته رامخته کيږي چې مونږ ته ددی ښودنه کوي:
د ام المومنين عايشه رضي الله عنها څخه روايت دي دی وايي: که چيرته زمونږ خوښه وي چې خيټه باندي مانه شو نو دا مونږ کولي شو خو نبي کريم صلی الله عليه وسلم هميشه پخپل نفس باني نورو ته غوروالي ورکولو نبي کريم صلی الله عليه وسلم پخپل نفس باندي نورو ته غوروالي ورکولو او همدارنګه خپلي کورني په نسبت يي نورو ته ډيره پاملرنه کوله

سره لدي چې دوي به ډیر اړتیا لرله.، د ابي سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دي وایي: مونږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره په یو سفر کې ملګري وو چې یوسړي په اوښ باندي سپور راغي او وي ویل: پداسی حال کې چې نظر یي ښي او چپ لاس ته اړولو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له چا سره چې شاته سوارلي اضافه وي نو هغه څوک دی کینوي چې هغه سوارولی نلري او د چا سره چې کوم توکي اضافه وي نو هغه چاته دي ورکړی چې هغه څه نلري، راوي وایي پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مال دومره ډولونه بیان کړ تردي چې مونږ فکر وکړو چې مونږ سره چې کوم شیان اضافه وي په هغه کې هیڅ حق نلرو.

په صحیحین کې راغلي دي چې عایشه رضي الله تعالی عنها څخه روایت دی وایي: یو مسکینه ښځه راغله چې دوه لورګاني ورسره وی نو دری خرماوی مي ورته ورکړي نو هغي دواړو لورګانو ته یوه یوه خرما ورکړه او یوه یي تری جیګه کړه هغه یي هم خپلو لورګانو ته ورکړه او د هغوي ترمنځ یي په برابر ډول وویشله دغه کار ماته حیرانونکي وو ما پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته دی بیان وکړ هغه وفرمایل: الله جل جلاله هغه ته پدی باندي جنت ورکوي او پدی باندی به د اور څخه خلاصوي کله چې دا د یو داسی ښځي بدله وي چې خپلو لورګانو ته یي پخپل ځان باندی غوروالي ورکړي وي نو ستاسو څه خیال دی د هغه چا لپآره چې د یو کمزوری اړمند او مسکین سړي پخپل ځان باندی غوره کړي او هغه ته صدقه ورکړي؟

عثمان بن عفان رضي الله تعالی عنه د رمادی په کال کې کله چې په مسلمانانو باندي بیوزلي او لوږه زیاته شوه نو خپل سوداګر یی شام څخه راوغوښتل پداسی حال کې چې زر اوښان باندي وربشي غوړي او کشمش بار وو هغه ته د مدیني منوری سوداګر راغلل او ورته یی وویل تاسو څه غواړی هغوي وویل: ته پوهیږي چې مونږ څه غواړو مونږ ته هغه څه

راخرخ کړه چې تاته رسیدلي دي ځکه چې پدی پوهیږي چې خلک دیته ضرورت لري نو په ډیر محبت او کرامت یی وویلي نو څومره ګټه ماته راکوی چې دا اخلي هغوي وویل د یو درهمه په بدل کې دوه درهمه درکوو بیا یی ورته وویل لږ زیات کړي پدی باندي هغوي وویل: څلور بیا یی وویل پدي باندي یی زیات کړي هغوي وویل: پینځه بیا یي ورته وویل نور هم زیات کړی نو هغوي ورته وویل ای ابا عمروه! په مدینه کې زمونږ څخه ماسوا نور سوداګر ندي پاتی شوي او زمونږ څخه مخکي هم نور څوک تاته ندی راغلي نو تاته دومره ډیر پیسي څوک درکوي؟ هغه ورته وفرمایل: الله جل جلاله ماته په هر درهم باندي لس چنده نیکي راکوي ایا تاسی پدی باندي زیادت کولی شي؟ هغو وویل نه، نو وی فرمایل: زما دی په الله قسم وي چې دغه ټول بار اوښي ما د الله جل جلاله په لاره کې په مسکینانو او د مسلمانانو په فقراؤ باندي صدقه کړي دي.
کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم صحابه ؤ ته اشاره ورکړه چې د رومه په نوم باندي کوهي واخلي حال دا چې دغه کوهي د یو یهودی سړي سره وو او د هغه پیسی هم دیری جیګي وي نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د رومه دغه کوهي واخلي نو ددی هري یوه بشکه به د مسلمانانو لپاره صدقه وي عثمان رضي الله عنه راغی او یهودي سره یي پدی باندی خبره وکړه خو یهودي انکار وکړ چې ټول کوهي نه خرڅوي نو دهغه نیمایی واخیسته او دا یي په دولس زره درهمه باندي واخیسته اوهغي د مسلمانانو لپاره وقف کړه پداسی ډول سره چې یو ورځ به یهودي د کوهي نه اوبه اخیستلی او یو ورځ به عثمان رضی الله عنه نو کله به چې د عثمان رضي الله عنه د ورځي نوبت راغی نو مسلمانانو به دومره اوبه تری ایستلی چې هغوي به دوه ورځي بس شي کله چې یهودی دا کار ولیدلو نو وی ویل چې زما کوهی د په ما باندی خراب کړو نو هغه نیمایی نوره برخه یی هم ورباندی خرڅه کړه هغه هم عثمان رضي الله عنه په اته زره درهمه باندی واخیسته دا د عثمان رضی

الله عنه سمدستي امر پر ځاي کول وو چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم امر يي پرځاي کړ او هغه يي واخيسته ترڅو ټولو مسلمانانو ته عامه ګټه ورسيږي.

او عمر بن خطاب رضي الله عنه په زمانه کې کله چې مسجد حرام په خلکو باندي تنګ شو نو عمر رضي الله عنه د جومات ګاونډيانو ته چې کورونه يي نږدي وو عرض وکړ چې د هغو کورونه دی خرڅ کړي ترڅو جومات ته يي ورکړي او وي ويل تاسو په کعبه باندي راښکته شوي ياستي کعبه خو په تاسو ندی ښکته شوی.

همدارنګه عثمان بن عفان رضي الله عنه عين کار يو واري بيا ترسره کړ او وی ويل: زما حلم تاسو جرأتمند کړی ياستي تاسو باندی عمر رضي الله عنه چې څه کړي وو نو هغه زه هم کومه نو خبري مکوي بيا يي امر وکړو چې هغوي د بنديان کړي تدری پوري چې دغه فردي ملکيت د عام ګټي لپآره وقف شو ترڅو لاری پراخي شوي او همدارنګه مقبری جوړي شوی او همدارنګه جوماتونه او کلاګاني رامنځته شوی ددی ترڅنګ بايد عام نور اداري لکه روغتونونه مکتبونه، دساتني ځايونه او داسی نور ددی لپآره بايد وقف کړی شي څکه عامه ګټه په خاصه ګټه باندی تل مخکي وي.

همدارنګه مونږ پدي باندي ټينګار کوو چې په دين باندي صحيح پوهيدل ددی غوښتنه کوي چې د عامو ګټو د شکلونو څخه چې زمونږ دين مونږ په هغه باندي هڅولي يو هغه دادي چې د خلکو د حالاتو او د هغوي د واقعيتونو څخه ځان خبر کړو او لومړيتوبونو ته ترتيب ورکړو ترڅو د ټولني اړتياوي پوره کړو په ځانګړي توګه هغه اړتياوي چې ډير ضروری وي که چيرته د ټولني اړتيا پدي کې وي چې هغوي ته دي روغتونونه جوړ شي او همدارنګه د بيوزلو د علاج لپآره ورکړی شي نو لومړيتوب همدلته دی او که چيرته د ټولني اړتيا پدی کې وي چې هغوی ته دی مکتبونه او معاهدونه جوړ کړی شي او د هغه ساتنه وشي او په

زدکوونکو باندي پيسی مصرف شي ترڅو هغوي روزنه په سمه توګه ترسره شي نو لومړيتوب همدلته دی او که چيرته اړتيا پدی کي وي چې د هغه چا لپآره چې د واده کولو وس نلري او هغو باندي پورونه دي نو هغي پورونه دی اداء شي ترڅو د هغوي څخه د پور دغه مصيبت لرې شي نو لومړيتوب بيا همدی کې راڅرګنديږي.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

د اسلام مبارک دين د لومړيتوبونو ترتيب مراعات کړی دی ترڅو چې په عامو ګټو کې هم بايد ددی ترتيب رامنځته شي او پدي باندي امر کړی دی چې عامي ګټي په خاصو او شخصي ګټو باندي مخکي وي ځکه چې عامه ګټه ټولو ته رسيږي او شخصي ګټه يوازي هغه چاته رسيږي چې هغه يي ترسره کوي او له هغه ماسواء نورو ته د هغه ګټه نه رسيږي که يو سړی په يوه اداره کې کار کوي او د خپل کار په بدل کې پيسی اخلي او دا رالګيږي او د شپي ټوله شپه لمونځونه کوي کله چې د ورځي بيا کار ته لاړ شي بيا هلته ستړي او ستومانه وي او خپل هغه کار په سمه توګه نشي اداء کولی او د هغه له وجي ددی اداري او د خلکو ګټي له ځند سره مخامخ کيږي نو دا پخپله امانت ضايع کول دي او د خلکو پيسي په باطله توګه سره خوړل دي او همدارنګه په مسئوليت کې کمښت دی چې مونږ په هغه باندي مکلف کړی شوي يو نو مونږ پدی سره هغه د نفلونو په بدل کې عام واجبات ضايع کوي او بی له شکه چې ددينې مقصدونو څخه

داندي چې داسی کار ترسره شي ابوبکر صديق رضي الله عنه کله چې دمرگ په بستر باندی پروت وو نو عمر رضي الله عنه ته يي وصيت وکړو او وی فرمايل: پدی باندي پوه شه چې الله جل جلاله هغه عمل چې په شپه کې ترسره کيږي هغه د ورځې نه قبلوي او هغه عمل چې د ورځې ترسره کيږي هغه بيا د شپې نه قبلوي او همدارنگه الله جل جلاله نفلونه تر هغه نه قبلوي ترڅو چې د فرض اداء کړی نه وي.

د الله جل جلاله په دين باندی ځان پوهول لازمي دي په هغه ډول سره چې د دزماني د واقعيتونو سره مناسب وي او همدارنگه د خلکو د احوالو او اړتياوو مراعت بايد وکړی شي او دا ددی اړتيا هم لري چې مونږ بايد يوازي د ځيني فقهي مسايلو په پوهه باندي بسنه ونکړو بغير ددی چې په هغه کې په خه ډول سره فکر او د هغه مقصدونه درک کړواو لومړيتوبونه تنظيم کړو ترڅو د هغه سره د شريعت لوي مقصدونه رامنځته شي.

د دغه مقصد باندي د پوهي او همدارنگه د دين په اوامرو باندی د پوهي په لړ کې او همدارنگه د لومړيتوبنو په لړ کې مونږ پدي باندي ټينگار کوو چې د خلکو او دټولني د اړتياوو پوره کول د تکراري حج او د عمری څخه غوره دی ځکه چې د خلکو د اړتياوو پوره کول لکه يو څوک چې قرضداره وي هغه باندي اسانتيا راوستل اود هغه اړتيا پوره کول يا دا چې په بيوزلي باندي صدقه کول او د هغه کفالت ترسره کول اوياهم دداسی کورنی بندي راخلاصول چې هغه په قرض کې بندي وي دا د فرض کفايی څخه راځي اودا معلومه ده چې د فرض کفايه اداء کول په ټولو نفلونو باندي مخکي دي چې پدي کې تکراري حج اوعمره هم راځي.

دلته مونږديته ډيره زياته اړتيا لرو چې پخپل دين باندي په سمه توگه ځان پوه کړو او همدارنگه خپل واقعيتونه درک کړو او په ښه توگه سره پري ځان پوه کړو ترڅو وکولاي شي ټول هغه ننگوني مونږ درک کړو چې په مونږ باندی راچاپيره دي او په ترڅ کې بيا عامي گټي او مصلحتونه په

شخصي ګټو باندي په ښه اخلاص او بی طرفي باندي مخکي کړو ترڅو زمونږ ددین د لاربنوونو ساتنه وشي او همدارنګه زمونږ د هیوادونو د پرمختګ ودي او د ترقي لامل وګرځي او هغه ځاي ترلاسه کړي چې ددغه هیواد او د ولس سره مناسبه وي.
ای الله! مصر او د هغه ولس پوځ او پولیس ټول د بدیو څخه وساتي.